# د لوړو زده کړو وزارت
# بُست پوهنتون
# طب پوهنځی
# د ستراتیژیک پلان د تطبیق او څارکمیټه

## د ستراتیژیک پلان د تطبیق د کلني راپور مهم ټکي او غورچاڼ:

1. **دظرفیتونو لوړول:** د ۱۴۰۱ کال په جریان کي د طب پوهنځی استادانو ته د OBE & SCL دولس ورځنی ورکشاپ د هلمند د لوړو زده کړو موسسې لخوا د ۱۴۰۱/۲/۲۵ الی ۱۴۰۱/۳/۷دایر سو.
2. **عملی کارونو لپاره د زمینه پراختیا :** د طب پوهنځی د ۱۴۰۱ هـ.ل کال د **بهاری** سمسټر په شروع کی د طب پوهنځی د برحال محصلین لپاره د عملی کارکولو زمینه برابره شوی ده، لکه څرنګه چی په نوموړی سمسټر د کلینیک دوری لس ټولګی په اونی کی یوه ورځ د عملی کار په موخه د طب پوهنځي په تدریسی روغتون کی حاضریدل او د طب پوهنځی د ۱۴۰۱ هـ.ل کال د **خزاني** سمسټر په شروع کی د طب پوهنځی د برحال محصلین لپاره د عملی کارکولو زمینه برابره شوی ده، لکه څرنګه چی په نوموړی سمسټر د کلینیک دوری (۱۰) ټولګی په اونی کی یوه ورځ د عملی کار په موخه د طب پوهنځي په تدریسی روغتون کی حاضریدل او ددی ټولګیو له جملی څخه درې دولسم سمسټر، دوه لسم سمسټر، درې نهم سمسټر، یو اتم سمسټر او دوه د اووم سمسټر محصلین شامل وه.
3. **د کیفیت تضمین د خدماتو او زیربناوو رغول:** دریم پړاو ارزوني او اعتبار اخیستني دپاره چمتو والی نیول.
4. **د تحصیلی نصاب اصلاح او څارنه :** د معیاري تحصیلي فرستونو دبرابرولو په موخه .
5. **د کادری روغتون پراختیا :** د کادري روغتون ټول خدمات ئی وړیا دی تر دې وړاندی ئی د ورځی دولس ساعته خدمات وړاند کول د ۱۴۰۱ هـ.ل کال په جریان کی نوموړی روغتون ۲۴ ساعته فعالیتونه پیل او په لاندی برخو کی خپل فعالیتونه مخته وړی (عمومی جراحی، عمومی داخله، اطفال، جلدی، سترګه ، E.N.T او اورتوپیدی)
6. **د علمی څیړنو پراخول ( تحقیق )د ۱۴۰۱ هـ.ل کال کی څلور څیړنی ترسره کول :** د ۱۴۰۱ کال په جریان کي د طب پوهنځی د استادانو لخوا (۸ ) څیړني ترسره سوي دي.
7. **د عوایدو را ټولول :** د طب پوهنځی عواید د کانکور ازموینې او د محصلانو د فیسونو څخه لاسته راځي .
8. **د تکنالوژي څخه استفاده :** د طب پوهنځي په ټولو ادارو او تدریسی ټولګیو کی د تکنالوژي څخه مناسبه استفاده کیږی او ټولی ټولګی ئی د پلازما/پروجکتور څخه برخمنی دی.
9. د محصلینو د جذب لپاره اوږد مهاله فعالیتونه .
10. د کتابتون په کتابونو ته انکشاف ورکول .
11. د ۱۴۰۱ هـ.ل کال په جریان کی د بیولوژي لابراتوار کی پراختیا راوستل.

پورته راپور د طب پوهنځی دستراتیژیک پلان د تطبیق او څارکمیټې په ( ۱۲) غونډه او ( ۱۴۰۱/۱۲/۲۱ ) نیټه باندي تائید دی .

پورته راپور د طب پوهنځی د علمي شورا په ( ۲۰) غونډه او ( ۱۴۰۱/۱۲/۲۷ ) نیټه باندي تائید دی .